صدای طالبان

پنځم ټوک

RAMADHAN 1445
https://umnews.net



MARCH 2024

ناپاک پوځ،
د طالبانو دښمن که د اسلام دښمن؟

د اعتکاف فضایل او مسایل





فهرست



سریزه

د اسلامي امارت او کوډاګي پاکستاني رژیم ترمنځ روانه ترینګلتیا په اړه حقیقت څه دی؟ او حل لاره یې څه ده؟

د اسلامي امارت او پاکستاني رژیم ترمینځ وخت ناوخت د مختلفو سرحدي او سیاسي مشکلاتو له امله نښتې او ترینګلتیاوې رامنځته کېږي، خو دا ورستی نښته یا ترینګلتیا هغه مهال پېل شوه کله چې څو ورځې وړاندې د روژې مبارکې میاشتې په اتمه نېټه، د پاکستاني رژیم جیټ او ډرون الوتکو د رمضان المبارک او د اسلامي امارت (أعزها اللّٰه) تر چتر لاندې د حاکم یواځیني اسلامي نظام تقدس او همداراز د افغانستان زمکني تمامیت او بشپړتیا په ډیرې سپین سترګۍ سره د څوتنو جابرو جنرالانو چې د ټول نظام او پوځ واکې یې په لاس کې دي، تر پښو لاندې او په ډېر وحشت او بربریت سره یې د پکتیکا او خوست په ولایتونو کې په عامه بې ګناه خلکو ړندې بمبارۍ وکړې، چې په پایله کې یې اته تنه ښځې او کوچني ماشومان په شهادت ورسېدل. إنا للّٰه وانا الیه راجعون

پوځ له یاد بمبار څخه شیبه وروسته د ځان د براءت او له بدنامۍ څخه د ځان ساتلو په موخه ادعا وکړه چې ګواکې د عبداللّٰه شاه محسود په نوم د تحریک طالبان پاکستان یو جهادي قومندان

او ډلګۍ مشري يې په نښه کړې دی، خو نيم ساعت لا نه و تېر چې د تحريک طالبان پاکستان د نشرياتي اداري عمر ميډيا له لوري يوه ويډيو خپره شوه، چې پکې د عبدالله شاه محسود په نوم ياد قومندان دجنوبي وزيرستان په سيمه کې د خپلو څو تنو وسلوالو ملګرو سره راڅرګند شو، نوموړي په دغه ويډيويي پيغام کې د ده په نښه کېدو او شهادت ادعاوې رد کړې او همدارازيې ووېل چې نوموړی في الحال د جنوبي وزيرستان په شوال دره کې قرار لري او کومې دعوې چې ناپاک پوځ د ده په اړه کړي دي، دروغ او بې اساسه دي.

وروسته تردې، د اسلامي امارت د دفاع وزارت اړونده مجاهدينو د مولوي محمد يعقوب مجاهد صاحب حفظه الله په امر د بې ګناه ملکي خلکو د غچ اخيستنې په موخه، په درې سرحدي ولايتونو (پکتيا، خوست او پکتيکا) کې د ناپاک پوځ شاوخوا نهه لويې او وړې قرارګاوې او مراکز د سپکو او درنو وسلو په مټ په نښه کړل، چې د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې پکې د پوځ څو تنه سرتېري ټپيان او ووژل شول.

تحريک طالبان پاکستان په بيا بيا په خپلو اعلاميو او ويډيويي پيغامونو کې دا روښانه کړې ده، چې موږ په خپله خاوره کې د اسلامي نظام د نفاذ لپاره د خپلې خاورې څخه د خپل مسلمان او مجاهد ملت په هراړخيزې ملتيا او مرسته په روانه سپېڅلې جهادي مبارزه کې بوخت يو، موږ نه د کوم هېواد ځمکې يا اتباعوته او يا هم مالي ملاتړ ته کومه اړتيا لرو.

همدارازاسلامي امارت هم بيا بيا د پاکستاني رژيم دې اندېښنې يا شکايت ته په ځواب کې خپله واضحه تګلاره او پاليسي بيان کړې ده، چې ټيټيپي يا تحريک طالبان پاکستان د پاکستان داخلي موضوع ده، زموږ له نظام او راتګ سره کوم تړاؤ نلري، بلکې له تېرو شلو کلونو راهيسې په جهادي مبارزه بوخت او فعال تحريک پاتې شوی دی.

که يې د حل په اړه وغږيږو، نو بايد ووايو چې تر څو پورې چې په پاکستان کې هغه نظام نه وي حاکم شوی د کوم نظام لپاره چې پاکستان آزاد او ترلاسه شوی و، دا موضوع او ترينګلتيا هيڅکله نشي حل کېدلای.

نو بايد د دې لپاره د پاکستان مؤمن او مسلمان ولس د تحريک طالبان پاکستان د مجاهدينو هراړخيز ملاتړ او ملتيا ته دوام ورکړي او خپل استعدادونه د اسلامي نظام د نفاذ لپاره د تحريک طالبان پاکستان تر چتر لاندې صرف کړي.

همدارازپاکستاني ګوډاګي پوځي جنرالان او د غرب لاسپوڅي هم بايد نور نو بل ته د ګوتې نيولو پرځای خپل کار ته متوجې اووسي، خپلې غير شرعي او ناسمې پاليسۍ سمې او اصلاح کړي.

ګوندې تل به د تېر په څېر د تحريک طالبان پاکستان د سرښيندوونکو مجاهدينو له ګوزارونو سره مخ وي.

ناپاک پوځ؛
د طالبانو دښمن که د اسلام دښمن؟



لیکوال: ابوخوله

محترمو مسلمانانو وروڼو! اسلام سره د پاکستان د ناپاک او د کرایي پوځ دښمني اوس دومره جوته او ځرګنده ده چې هېڅوک تري نشي منکرېدلای، زمونږ په ګران وطن پاکستان کې دوی په عوامو او خواصو داسي وحشتناک ظلمونه کړي چې هرڅوک پرې ګواهي وايي، د دوی دښمني فقط اسلام غوښتونکو سپېڅلیو طالبانو سره نه بلکې هر هغه چاسره ده چې څوک د دې خوب «چې پاکستان کا مطلب لا اله الاالله» تعبیر په شرعي نظام سره کوي، دلته هر هغه څوک څورول کېږي، بندي کېږي، بې کوره کېږي، ورکول کېږي او یا هم وژل کېږي چې د چا په ژبه د الهی قانون نعره وي، دا ځکه چې دا د کرایي پوځ د اسلام او مسلمانانو قاتل دی، نه فقط د طالبانو.

محترمو مسلمانانو وروڼو! تاسې ته معلومه ده چې په ګران هېواد پاکستان کې دو ډوله خلک دي چې هغوی په اخلاص سره د شرعي نظام د قیام لپاره جدوجهد کوي، یو هغه مسلح او د عملي جهاد باتوره زمریان چې د دعوت ترڅنګ د ټوپک په زور د شرعي نظام لپاره هر ډول تکلیفونه ګالي، د پاکستان د مغرور پوځ مخې ته یې ځانونه سپر کړي او ډېر په مېړانه خپل سپېڅلي هدف ته ځان رسوي، او په اسلام دښمنه پوځ له هرې خوا تندریز ګوزارونه کوي، په مقابل کې یې خپله هم ډول ډول زحمتونو تر څنګ د شهادت لوړ مقامونه ترلاسه کوي.

دوهم هغه پاک مخلص او رباني علماء کرام او طلباء کرام او عام مخلص او پاک مؤمنان دي چې هیڅ سیاسي ګوند کې د

د ګډون کولو پرته د هر ډول مصروفیاتو او هر ډول مشکلاتو سره یې خپلې ژبې د حق په وینا لمدې ساتلي، په درس او تدریس، تعلیم او تعلم، په تربیتي او اصلاحي اجلاسونو په مدرسو او جماتونو کې خلکو ته ډېر په مېرانه د جمهوري نظام خبائث او د اسلامي شرعي نظام ګټې بیانوي، په اسلام او مجاهدینو د نیوکو مدلل ځوابونه کوي، د اسلام صفا او روڼ مخ خلکو ته معرفي کوي او د هرقسم شرک او بدعت او سیکولر ازم، لیبرل ازم او نیشنل ازم څخه پاکه عقیده خلکو ته ور جوړوي، چې له عمله یې هرکال بې شمېره مجاهدین د جهاد لیکو ته راځي او د مجاهدینو صفونه درنوي.

محترمو! که فکر وکړو د دښمن هم دوه صفونه دي زمونږ هم دوه صفونه دي، په اولو دواړو صفونو کې علماء کرام او داعیان دي، د دښمن په صف کې هم علماء دي چې دښمن د ټوپک په زور، یا د دنیاوي لالچ په مټ یا د بزدلۍ له امله غولولي دي او د مجاهدینو دښمنۍ ته یې اماده کړي دي، کومو علماوو چې د دوی له خدمت انکار کړی یا یې سکوت غوره کړی، له کراچۍ، بلوچستان، نه تر پښتونخوا پورې د هغو عالمانو د شهادت دردناکې حادثې د چانه پټې ندي، خو په مقابل کې که د تحریک طالبان پاکستان معتدل مؤقف او مشرتابه ته وکتلای شي نو معلومه به شي، چې دا عالمان مونږ معذور ګڼلي او هیڅ کله مو چاته اجازت ندی ورکړی چې دوی ته زیان ورسوي. مونږ ورته د هدایت غوښتکي یو اللّه دې ورته د عزیمت لاره برابره کړي.

بلخوا که زمونږ د اسلامي نظام غوښتونکو لمړي صف ته وکتلای شي، نو هغه ډېر مظلوم خلک دي، غیر له دې چې مجاهدینو سره عملي کومک وکړي، ځای ورکړي، چانده ورته وکړي فقط د اسلامي نظام د نفاذ د دعوت له امله مکار او بزدله دښمن ټل داسې عالماء او طلباء بندیان کړي، ځورولي او شهیدان کړي. د دوی د زعم مطابق چې جمهوریت کې د رایې آزادي ده خو دا سل فیصده دروغ دي دلته د کفري رایې آزادي ده، البته په قال اللّه او قال الرسول سخته پابندي ده.

زمونږ مقابله له داسې یو مکار، وحشي او درنده صفت دښمن سره ده چې اسلام لا څه چې د انسانیت له حده وتلي دي. خو بیا هم واللّه غالب علی امره حق هر وخت غالب وي، سره د دې ټولو ظلمونو او وحشتونو مونږ خپل هدف ته ډېر نېږدې شوي یو، د جمهوریت د کفر نعره اوس د هرې مدرسې او هر جمات نه را اوچتېږي، زمونږ صفونه ورځ تر بلې درنېږي، اوس هرڅوک خبر دي چې د پاکستان اصلي وارثان طالبان دي. ان شاءاللّه ژر ده چې په پاکستان کې به هم د ګاونډ پشان د سل فیصده امن تر څنګ د سپین سوچه اسلامي نظام شاهدان اووسو.



مونږ د یوې داسې مینې په لار کې یون کړی چې پای ته رسېدل یې د بیلتون په سختو کړیوو او دېوالونو بنده شوې ده، کله کله داسې حالات هم راځي چې زغمل یې زمونږ لپاره ډېر سخت وي.

یلتون خو پیژنئ!؟؛ هغه څه چې د ډېرو د هیلو او امیدونو جونګړې یې لا هماغسې ویرانې او ویجاړې پرې ایښي دي، ډېر یې له خپلو ارمانونو څخه لېرې ساتلي دي، هر انسان یو هیله او ارمان لري، چې رسېدل ورته غواړي، ځیني یو چا ته د رسېدلو لپاره ځیني بیا یو کس ته د رسېدلو لپاره او ځیني بیا یوې لوړې رتبې ته د رسېدلو لپاره، البته د هر انسان هیلې او ارزوګانې په مختلفو بڼو فرق سره لري، مګر د مجاهد هیلې بیا ډېرې لوړې وي، دا هغه هیلې وي چې هر شخص نشي کولای د مجاهد هیلو ته ورسېږي، دا هیلې ډېرې سپېڅلې او د سختو لارو په سر تېرې شوې دي، داسې سختې چې آن ځیني یې تصور هم نشي کولای، مګر مجاهد له دې ټولو سختیو او مشکلاتو څخه خوند اخلي، او پر دغه لار د تللو لپاره تر دې حده پورې لېوال او بې تابه وي، چې آن په ژړا او فریادونو د دې لارې د تللو غوښتنه کوي، ټوله هیله یې دا وي چې خپل خوږ هدف تر لاسه کړي، هغه هدف چې په ترلاسه کولو یې مونږ تر جنتونو او د رب العالمین تر دیدار پورې رسېدلای شو، چې د نوم په

اوریدلو بې مجاهد د مینې هغه خوند حس کوي، چې له دې څخه مخکې به يې په بل هيڅ شي کې هم نه وي حس کړي، دا ستر مقام شهادت دی، شهادت د حقيقي عاشق او د رب العالمين ترمنځ يو داسې د بيلتون حايل او پرده ده، چې کله کله د کلونو کلونو انتظار پکې راشي، او کله کله بيا داسې نږدې ترلاسه شي، چې هيڅ تصور به دې هم نه وي پکې کړی، شهادت مونږ ته هغه څه راکوي، چې مونږ له هغه مخکې په بل هيڅ شي کې هم نشوای تر لاسه کولای، کله چې يو کس شهيد شي، نو د رب العالمين په حضور کې په تکرار تکرار سره دنيا ته د بېرته تللو او هلته په بار بار سره د شهيد کېدلو غوښتنه کوي، شهادت د مينې يوه داسې صفحه ده، چې هلته زيات مجازي مينان او ليکوالان خپل قلم نشي خوځولای، بلکې د اللّٰه تعالی جل جلاله د لارې عاشقان په همدې صفحه کې خپل نومونه ليکي او د خپلې حقيقي مينې سره يو ځای کېږي، شهادت يوه داسې مينه او د مينې په لاريون ده، چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم يې په بار بار غوښتنه کړې، هغه صلی اللّٰه عليه وسلم د دې ډېر ارمان کوو، چې د اللّٰه تعالی جل جلاله په لار کې د شهادت خوند وڅکي، شهادت نوی ژوند دی، خو مونږ پرې نه پوهېږو، د يو مجاهد وروستی ارمان شهادت دی.

هو همدا شهادت دی چې مونږ تر خپل ارمان پورې رسوي، د قيامت په ورځ به يوازې له شهيدانو سره اللّٰه تعالی جل جلاله د دوی د ګرو ګناهونو په سبب حساب نه کوي، چې دا د کاميابي او فلاح يو ستر مقام ګڼل کېږي.



روژه

پېژندنه، شالید، فضایل، حکمتونه، روغتیا او احکام – مفصله څېړنه

لیکوال: محمد کرور

اللّٰه عزوجل د روژې میاشتې په داخلېدلو سره پر خپلو بندګانو باندې یو حکم واجبوي، چې هغه روژه ده. روژه د رمضان د میاشتې په داخلېدو سره د هر مسلمان په کور کې مېلمنه ده.

اللّٰه تعالی روژه د دې لپاره نده فرض کړې چې خلک دې لوږه تېره کړي، بلکې د دې لپار یې فرض کړې ترڅو د هغه بندګانو کې تقوا راشي، نفسونه مهذب شي، د شهوتونو له بنده آزادي ومومي او خپلو معنویاتو سمولو ته یې پاملرنه پیدا شي.

روژه انسان اللّٰه تعالی ته نېږدې کوي، له غوره بندګانو څخه یې ګرځوي، همدې مېاشت کې اللّٰه تعالی ډېرو خلګو ته ښښنه کوي، په سمه لار د تللو توفیق ورکوي، او د ټول ژوند مسیر یې بدل کړی، باېد له ځان سره هوډ ونېسو ترڅو همدا رژه زمونږ د هدایت روژه وي.

روژه د بدلون مېاشت ده، په دې مېاشت کې هر انسان د خپل تېر کال کړونو بیا لیدنه کوي، لږترلږه هر شپه پخپلو تېرو ناسمو کړنو پښېمانتیا ښایې، او توبه باسي، دی د خپل ژوند مسیر په همدې شپو کې بدلوي، نو ځکه ورته تېر ګناهونه ښښل کیږي، اللّٰه دې توفیق راکړي چې همدې روژه کې مو پاتې ژوند مثبت بدلون ومومي.

روژه برسېره پردې چې انسان اللّٰه تعالی ته نېږدې کوي، جسماً یې هم روزي. هغه روزنه ورکوي چې بل یو عبادت او یا کومه بله کړنه داسې روزنه نشي ورکولای، د یوه سیاست مداره انسان همت لوړوي او پرځان باور پکې پیدا او زیاتوي یې، د پوځي مجاهد موړال قوي کوي او د هر ډول مشکل مقاومت پکې پېدا کوي، په وګړېز ډول انسان کې د مسؤلیت احساس او په ټولنیز ډول پکې همدردي، محبت او ریښتینولي پیدا کوي، د مریض صحت رغوي او جوړ له امراضو ساتي، غریب کې صبر پیدا کوي، او مالداره کې غریب سره د مرستې او لاسنیوي درد او احساس پیدا کوي.

روژه پداسې یوه میاشت کې فرض ګرځي

چې قرآن کریم پکې نازل شوی، هغه قرآن کوم چې د رب العلمین کتاب او خبرې دي، هغه قرآنکریم کوم چې د بشریت لاربښود دی، هغه قرآن کوم چې وروستی آسماني کتاب دی، هغه قرآنکریم کوم چې په اشرف الانبیاء محمد صلی اللّٰه علیه وسلم نازل شو او رسالت او نبوت پرې پای ته ورسېد، او دا یې مقام او فضلیت نور هم پورته کوي، نو ځکه خو ورته د قرآن میاشت وایي لکه؛ اللّٰه تعالی فرمایي: (شهر رمضان الذي أنزل فیه القرآن هدی للناس وبینات من الهدی والفرقان فمن شهد منکم الشهر فلیصمه ومن کان مریضا أو علی سفر فعدة من أیام أخر یرید اللّٰه بکم الیسر ولا یرید بکم العسر ولتکملوا العدة ولتکبروا اللّٰه علی ما هداکم ولعلکم تشکرون).

دروژې نیول یواځې د محمد صلی اللّٰه علیه وسلم په امت باندې ځانګړې فرض نه بلکې له دې دمخه په تېرو امتونو هم دغه فرض موجود و؛ لکه اللّٰه تعالی فرمایي:
[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ] [البقرة: ۱۸۳]

نو زه اړینه ګڼم، چې لوستونکو ته د دې نېکمرغې مېلمنې په اړه یوڅه وړاندې کړم. د دې مبارکې میاشتې او پدې کې د عبادت؛ لکه: لمونځ، روژې، د قرآنکریم تلاوت، د اللّٰه تعالی په لاره کې خرڅ او جهاد فضلیت.

څرنګه چې دا میاشت د روژې میاشت ګڼل کېږي نو دې کې د روژې پېژندنه، مرتبه، د فرضیت حکمت او راز، فضایل، او طبي فایدې، احکام وغیره پېژندل ډېر ضروري دي.

د روژې تعریف (پېژندنه):

روژه په لغت کې: نیولو او یا بندلو ته وایي.

روژه په اصطلاح کې: د عبادت په نیت د روژه ماتونکو شیانو څخه د سبا راختلو نه لمر لوېدلو پورې ځان ساتلو څخه عبارت ده.

د روژې مقام او مرتبه:

روژه د اسلام د پنځو اساسي او بنسټیزو ارکانو څخه یو رکن دی. لکه: عن عبداللّٰه بن عمر – رضي اللّٰه عنهما – قال: قال رسول اللّٰه – صلی اللّٰه علیه وسلم –: (بُني الإسلام علی خمس: شهادة أن لا إله إلا اللّٰه وأن محمدًا رسول اللّٰه، وإقام الصلاة، وإیتاء الزکاة، والحج، وصوم رمضان)؛ متفق علیه

ژباړه: د عمر ځوی عبداللّٰه ــــ رضي اللّٰه تعالی عنهما ــــ ځوی وایي: رسول اللّٰه ــ صلی اللّٰه علیه وسلم ــ فرمایلي: (اسلام پر پنځو ستنو ولاړ دی: لا اله الا اللّٰه محمد رسول اللّٰه شاهدي ویل، په سم ډول د لمانځه پرځای کول، زکاة ورکول، حج اداء کول، د رمضان روژه نیول) دا حدیث بخاري او مسلم رحمه اللّٰه روایت کړی دی.

روژه په نورو ادیانو کې:

الله تعالی روژه په تېرو امتونو هم فرض کړې وه، خو زمونږ او د هغوی د روژې ترمینځ ډېر زیات توپیر شته؛ لکه: مریم رضي الله تعالی عنها ته امر شوی ؤ چې د خبرو نه دې روژه وي: {فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنْسِيًّا} [مريم: ۲۶]

مریم علیها السلام به یواځې په اشاره خلګ پوهول، او د هغې دغه روژه (چوپتیا) د عیسی علیه السلام له راتلو څخه مخکې وه.

د مسیحیانو په دین کې د خبرو نه روژه اوس هم شته او دا د کاتولیکي مذهب پیروانو کې رواج لري. عیسویانو کې یوه بله فرقه ده چې هغوی له خبرو څخه روژه نیول په خپل هر پیرو باندې فرض ګڼي او د دې لپاره نرۍ پرېږدي او یواځېوالی اختیاروي.

د مسیحیانو رواجي روژه:

د کاتولیکانو روژه: د هغه خوارک کمول کوم چې یو سړی په عامه ورځ کې په یو وخت کې خوري، او یو ځل خوړل، او یا همدا د یو وخت خوراک کمول او په دوه برخو وېشل او دوه وخته خوړل، چې د دې دواړو وختونو ترمنځ به هېڅ شی نه خوري. د دې روژې لپاره عمر د اتلس نه تر نه پنځوس کلونو پورې ټاکل شوی. پوره روژه ټوله ورځ له غوښو نه ځان ساتل دي، او جزئي روژه د ورځې یواځې غوښه خوړل دي. او نورې فرقې بیا بل ډول روژه لري.

یهودو به هم روژه نیوله، یهود به خپله روژه کې د خوراک، څښاک او خبرو څخه منع وو. د یهودو په نزد تر ټولو مهمه روژه او د کال لویه ورځ د هغوی د توبې ورځ ده، چې پنځه ویشت ساعته روژه پکې نیسي، او ډېر لمونځونه کوي، خو مهم شی ورته روژه نیول دي. سړي سپین زړوکي اغوندي او ښځې سپین کالي اغوندي یا په جامو باندې سپن څادرونه غوړوي، پدې ورځ د بوټانو په پښو کول جایز ندي.

دوی نورې روژې هم لري چې شمېر یې شپږو ته رسیږي، دوی د خپلې رخصتۍ په ورځ روژه نه نیسي او هغه د جمعې ورځې لمر لوېدو نه د خالي یا شنبې ورځې د ماښام ستورو راختلو پورې ده. د روژې دوران کې یهود جماع، د غوړو استعمال او غاښونو کریم نه استعمالوي.

سیکان: سیکان روژه نه نیسي، او نه د دوی دین روژې نیولو ته خپل پیروان هڅوي، ځکه دوی دا عقیده لري چې روژه د انسان روح ته هیڅ فایده نه رسوي، دوی یواځې د طبي فایدې لپاره روژه نیسي.

صائبین: دا د ستورو عبادت کونکي دي. دوی به د سپوږمۍ په احترام دېرش ورځې (یوه میاشت روژه نیوله)، لدې څخه به یې نهه ورځې رب البخت (مشتري) ته او اوه ورځې

د خیر رب (لمر) ته ځانګړې کړې وې، د دوی روژه کې له لمر راختو نه تر لوېدو پورې له هر ډول خوراک، څښاک نه ځان ساتل دي.

د اسلام نه مخکې په عربو کې هم له خبرو څخه روژه نېول عام ؤ. روژې ته به یې «الصَّرْس» وایه، یانې تر شپې پورې چوپتیا، او ځینو عربو د اسلام نه وروسته هم دغه روژه نیوله.

ځینې بیا د خوراک او څښاک څخه په روژه کې سره توپیر لري، لکه مسیحیان د هغوی ځینې روژې د وچې د حیوناتو له خوړلو څخه وي، او ځینې روژې یې د سمندري حیواناتو له خوړلو څخه وي، او بل ډول روژه یې د روژه ماتونکو شیانو یوه شپه او ورځ ځان ساتل.

او بودیان خپله روژه کې د لمر راختلو نه تر لمر لوېدلو پورې له خوراک، څښاک او کوروالي څخه ځانونه ساتي.

او د یهودو روژې توپیر لري؛ ځینې یې یوه شپه، ځینې یوه ورځ، ځینې یوه حصه د شپې او یوه حصه د ورځې وي، او ځینې بیا د ماسخوتن لمانځه نه تر د سبا لمر لوېدو پورې روژه نیسي.

دا ټول ادیان د روژې په نیولو کې د اسلام په څېر له ځانګړتیاوو او امتیازاتو څخه محروم دي.

په اسلام کې د روژې اصلي موخه:

رازونه او حکمتونه: روژه د اللّٰه تعالی له احکامو څخه یو حکم دی. اللّٰه جل جلاله حکیم ذات دی، هیڅ کار یې له حکمت نه خالي ندی، د هر حکم شاته یې د انسانانو د دنیوي او اخروي ژوند د آبادۍ او نېکمرغۍ یو راز پروت دی.

روژه هم یو الهي حکم دی، ډېر حکمتونه لري، هر عالم تر خپل علمي توانه کوښښ کړی ترڅو دا حکمتونه خلکو ته را برسیره کړي، او دې عبادت لوړې ته یې لیوالتیا نوره هم زیاته شي. خو بیا هم له ډېر رازونو او حکمتونو څخه انساني عقل او فکر عاجز دی، خو د وخت تیرېدل او د علومو پرمختګ به د دې سپېڅلي حکم نور رازونه هم انساني علم کې زیات کړي.
زه غواړم دلته له هغو حکمتونو څخه کوم چې اللّٰه تعالی په صراحت سره بیان کړي، او یا رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم راښودلي او یا عالمانو درک کړي، یو څو یې وړاندې کړم.

۱_ اللّٰه عزوجل ته نېږدېکت:

روژې نیولو سره مؤمن اللّٰه تعالی ته نېږدې کېږي، او دا ځکه چې روژه نیونکی د اللّٰه تعالی خوښي په خپلې خوښۍ او غوښتنې باندې وړاندې کوي، او خپله خوښي د هغې د رضا لپاره پرېږدي. د انسان دغه ډول قرباني

الله تعالی ته ډېره غوره ده.

۲_ تقوی:

د روژې اصلي موخه انسان کې تقوا پیدا کول دي، لکه: الله تعالی فرمايي:

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ]

[البقرة: ۱۸۳] ژباړه: اې مؤمنانو! پر تاسې روژه فرض کړای شوې، لکه څنګه چې له تاسې نه د مخکینیو پیغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوې وه، د دې لپاره چې په تاسې کې د پرهېزګارۍ صفت پیدا شي.

د روژې هغه ځانګرتیاوې چې انسان کې تقوای زېږوي:

- پټوالی: روژه پټ عبادت دی، غیر له روژه نیونکي او الله تعالی هېچا ته نه ښکاري.
- دوام: روژه د شل او لس دقیقو عبادت ندی، بلکې یوه مکمله ورځ ده.
- پرېښودل: روژه نیونکی مباح کارونه پرېږدي، لکه: څښاک، خوراک، او جماع، نو حرم خو بیخې پرېږدي چې دروغ وغیره دي.
- لږ عمل او ډېر ثواب: روژه کې د هر یوشي ثواب څو چنده وي، نو مؤمن خپله دېته اړ کېږي ترڅو ډېر عبادت وکړي.
- قرباني: انسان کې قرباني پیدا کوي.

۳_ تهذیب :

د روژې موخه تعذیب ندی چې خوراک او څښاک پرېږده، بلکې تهذیب دی ترڅو د انسان ژبه، غوږونه، سترګې، خېټه، فکر او د بدن غړي له ناوړه کارونو روژه وي؛ لکه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ــ رضي الله تعالى عنه ــ عَنِ النَّبِيِّ ــ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ــ قَالَ: (مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ وَالْجَهْلَ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ).

۴_ شکر:

روژې سره مالداره او غني انسان د لوږې درد احساسوي، دې سره د غریب له حاله خبرېږي، او د الله تعالی د دې فضل او احسان چې مال یې ورکړی شکر باسي.

همداشان د خپل صحت اهمیت ورته معلومېږي، د الله تعالی د نعمتونو څخه خوند اخلي او شکر یې اداء کوي.

۵_ نرمي:

کله چې یو انسان یو درد پخپله محسوس کړي، نو بیا به هېڅکله د اخته انسان سره بده رویه ونکړي، د غریب لیدلو سره به په خپل روژهماتي کې د خوراک او څښاک د حلال کېدلو انتظار ور په زړه کېږي، پداسې حال کې چې ده یوازې د یوې ورځې لوږه تېره کړې او هغه هم په راحت کې.

۶_ تولنه کې همدردي، مینه او محبت:

کله چې روژه مالداره انسان کې یو احساس وزېږوي، دی مخکې لدې چې د خپل روژهماتي دسترخوان ډک کړي، اول د غریب دسترخوان

غم خوري، او دا کار به يې د روژې مياشتې پورې محدود نوي، بلکې روژه کې ده دا درد محسوس کړ او زده يې کړه، راتلونکي کال کې بيا دی هېڅکله غريب دې ته نه پرېږدي چې د خوراک نشتوالي له کبله لوږې شپې او ورځې تېرې کړي. نو د غريب هم له نومورې سره محبت پيدا کېږي.

برسېره پردې کله چې روژه نيونکي سره څوک جګړه کوي او يا ورته ښکنځل کوي هغه ورته هېڅ ځواب نه ورکوي، او ورته وايي: روژه يم. نو دې عکس العمل سره د مقابل لوري زړه ځخه کرکه او نفرت وځي او محبت ځای نيسي.

۷_ صحت:

دا حکمت نن ساينس را برسېره کړ. روژه د انسان صحت کې ډېر مهم رول لري؛ دا اړخ مو يې د روغتيايي فايدې تر عنوان لاندې لږ څه په تفصيل سره بيان کړی دی.

د رمضان د مياشت فضايل:

اللّه تعالی فرمايي: شهر رمضان الذي أنزل فيه القرآن هدى للناس وبينات من الهدى والفرقان البقرة:[۱۸۵]

دومره کافي ده چې اللّه تعالی دغه مياشت د قرآنکريم د نزول مياشت ګڼلې. او بل پدې مياشت کې يوه شپه ده چې هغې کې عبادت د زرو شپو نه غوره دی. لکه اللّه تعالی فرمايي: إنا أنزلناه في ليلة القدر. وما أدراك ما ليلة القدر. ليلة القدر خير من ألف شهر.

د رمضان مياشت کې روژه نيول بې کچې ډېر ثواب لري، انسان ته ناممکنه ده دومره ډېر ثوابونه په بله مياشت کې ومومي، موږ لپاره اللّه تعالی له خپل فضله په کال کې دغه مياشت د خپلو نيکيو زياتولو او اللّه تعالی ته د نېږدېکت يو په زړه پورې موقع او فرصت راکړی، چې پدې اړه به يوځو نبوي ارشاداتو ته راځم.

عن أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (مَن صام رمضان إيمانًا واحتسابًا غُفر له ما تقدم من ذنبِه) متفق عليه

ژباړه: ابو هريرة ــ رضي اللّه عنه ــ رسول اللّه ــ صلی اللّه عليه وسلم ــ نه روايت کوي، چې فرمايلي يې دي: هر چا چې د رمضان مياشت کې روژه په ايمان او د ثواب په نيت ونيوله نو تېر ټول ګناهونه به ورته وبښل شي.

محدثين د دې حديث په شرحه کې وايي: ايمان څخه مراد، د روژې په فرضيت باندې عقيده لرل دي.
او له احتساب نه مراد، داچې روژه د ثواب په نيت ونيسي او د هغې اجرونو او ثوابونو څخه برخمن کېدلو لپاره يې په ليوالتيا او د نفس په خوښۍ سره ونيسي، داسې نه چې

روژه هسې یو پېښتی وګنې، او د هغې د اوږدو ورځو د تېرېدو په لټه کې وې، بلکې دی باید دې روژې سره خپل رب له ځانه راضي کړي، او رب چې ترې څنګه روژه غوښتې هماغسې یې ونیسي. کله چې په روژه کې د خپلو غوږونو، سترګو، ژبې او د بدن د غړو ساتنه وشوه، نو بیا پوه شه چې اللّه تعالی درنه راضي او ګناهونه دې ببښل شوي دي.

د رمضان المبارک میاشت په داخلېدو سره د جنت دروازې پرانیستل کېږي، او د جهنم دروازې تړل کېږي؛ لکه: أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن النبي – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (إذا دخل رمضان فُتحت أبواب الجنة، وغُلِّقت أبواب جهنم، وسُلسلت الشياطين)؛ع مُتَّفق عليه

ژباړه: کله چې د رمضان میاشت داخله شي د جنت دروازې پرانستل شي، او د جهنم دروازې بندې شي، او شیطانان وتړل شي.

دې حدیث کې د دې میاشتې عظمت او لویې ته اشاره ده، ترڅو خلک د نیکیو لوري ته مخه کړي، او له بدیو ځانونه وژغوري، او دا هم یواځې د دې میاشتې له ځانګړتیاوو څخه ده چې شیطانان پکې تړل کېږي ترڅو د اللّه تعالی مخلص بندګان په عبادت کې ګدوډ نکړي او هغوی ته په کوم نیک کار کې خنډ واقع نشي، نو دا هم د اللّه تعالی پر خپلو بندګانو باندې یوه ځانګړې پیرزوینه ده چې د هغه دښمن ورڅخه تړي، خو دلته روژه نیونکی هم باید ډېر ویښ او بیداره اوسېږي

ترڅو لتې ترې ونشي ځکه اللّه تعالی ترې شیطان منعه کړی نو په ده هم باید د ده خواهشات دومره غالب نشي چې له نیکیو یې پاتې کړي.

د دې مبارکې میاشت یو بل فضلیت دا دی، چا چې دې میاشت کې د شپې عبادتونه وکړل او هره شپه یې په عبادت تېره کړه نو تېر ګناهونه به ورته وبښل شي؛ لکه: عن أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (من قام رمضان إيمانًا واحتسابًا غُفر له ما تقدم من ذنبه) متفق عليه

ژباړه: ابو هریرة ــ رضي اللّه تعالی عنه ــ له رسول اللّه ــ صلی اللّه علیه وسلم ــ څخه روایت کوي، فرمایي: هر چا چې رمضان میاشت کې قیام اللیل ایمان سره د ثواب په نیت وکړ نو مخکیني ګناهونه به ورته وبښل شي.

دغه ؤ د دې میاشې فضایل اوس به د روژې فضایلو ته راشو.

د روژې فضایل:

اللّه تعالی ته روژه ډېره خوښه ده، روژه ځان کې یوڅه ځانګړتیاوې لري، چې هغه په نورو عبادتونو کې نه موندل کېږي، یو یې د روژې حالت دی؛ روژه پټه وي، تر هغه چې تا یو چا ته نوي ویلي نو هیڅوک په تا نه پوهېږي. څرنګه چې روژه په کیفیت کې له نورو عبادتونو سره توپیر لري دغه راز په اجر کې هم له نورو ډېر توپیر لري؛ لکه:

أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (قال اللّه: كل عمل ابن آدم له إلا الصيام، فإنه لي وأنا أجزي به) متفق عليه

ابي هريرة ـ رضي اللّه عنه ـ له رسو اللّه ـ صلى اللّه عليه وسلم ـ څخه روايت کوي چې فرمايي: اللّه تعالى فرمايلي: هر انسان ته به د هغه د عمل اجر وي مګر روژه؛ ځکه روژه زما لپاره ده او زه به د هغې اجر ورکوم.

ياني اللّه تعالى به روژه نيونکي ته د روژې بې حسابه اجرونه او بدلې ورکوي.

روژه ډال دی: بل حديث کې رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم روژې ته ډال وايي، لکه:

عن أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (والصيام جُنة) متفق عليه

ابو هريرة ـ رضي اللّه تعالى عنه ـ نه روايت دی چې رسول اللّه ـ صلى اللّه عليه وسلم ـ فرمايلي: روژه ډال دی.

روژه خپل نيونکي ته د جهنم له اور نه ډال دی. او همدا روژه به يې له اوره ساتي.

د روژه نيونکي د خولې بوی: دې عبادت سره د اللّه تعالى د مينې يو بل مظهر پدې حديث کې ډېر ښه ځلېږي، چې اللّه تعالى ته د روژه نيونکي د خولې بوی د مسکو نه غوره دی، لکه: عن أبي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: (والذي نفس محمد بيده لخُلوف فم الصائم أطيب عند اللّه من ريح المسک)متفق عليه

ژباړه: ابو هريرة ـ رضي اللّه تعالى عنه ـ نه روايت دی چې رسول اللّه ـ صلى اللّه عليه وسلم ـ فرمايلي: په هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد ـ صلى اللّه عليه وسلم ـ روح د هغه په لاس کې دی، د روژه نيونکي د خولې بد بوی اللّه تعالى ته د مسکو له بوی ډېر خوښ دی.

عام انسانان د روژه نيونکي د خولې له بدبويي طبعاً ډېر تنګېږي، پخپله يې هم څوک نشي برداشت کولای، خو اللّه تعالى ته څومره غوره دی! د مسواک د استعمال په واسطه د دې بوی له منځه وړلو په اړه به د احکامو د بحث لاندې د علماوو نظرونه وړاندې کړو.

د روژه نيونکي لپاره دوه خوښۍ: اللّه تعالى روژه نيونکي ته دوه خوښۍ ور په برخه کوي، يوه دنيا کې کله چې روژه ماتوي او د اذان اورېدلو او يا لمر لوېدو په انتظار ناست وي، او دويمه خوشحالي په اخرت کې کله چې د اللّه تعالى ليدنه کوي، د اللّه تعالى لېدنه ډېر لوې نعمت دی. اللّه مو دې په برخه کړي.

ابي هريرة – رضي اللّه عنه – أن رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – قال: ((للصائم فرحتان يفرحهما: إذا أفطر فَرِح، وإذا لقي ربه فَرِح بصومه))؛ متفق عليه

د ابو هريرة ـ رضي اللّه تعالى عنه ـ نه روايت دی رسول اللّه ـ صلى اللّه عليه وسلم ـ فرمايلي: روژه نيونکي ته دوه خوشالۍ دي:

کله چې روژه ماتوي، او کله چې له خپل رب سره ملاقات کوي او پخپلې روژې خوشحاله کېږي، یانې د روژې اجر ورکړای شي.
د اللّه تعالی لیدنې سره به دته جنت ته د تللو زیری ورکړای شي، ځکه د اللّه تعالی لیدنه هرچاته نه په برخه کېږي، او دا به انسان ته د ترټولو لویې خوښۍ ځای وي.

روژه په ثواب کې سیال نلري: بل داسې عبادت نشته چې د روژې ځای ونیسي، لکه:
أبي أمامة الباهلي – رضي اللّه عنه – قال: أتيتُ رسول اللّه – صلى اللّه عليه وسلم – فقلتُ: مُرني بعمل يدخلني الجنة، قال: ((عليك بالصوم؛ فإنه لا عِدلَ له))، ثم أتيته الثانية، فقال: ((عليك بالصيام))؛ رواه أحمد والنَّسائي
د ابو امامة الباهلي رضي اللّه عنه ــ وایي: رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم ته راغلم: ورته مې وویل: داسې یوکار راوښایه چې جنت ته مې داخل کړي، راته یې وویل: روژې ونیسه، ځکه روژه سیال نلري، بیا ورته راغلم، بیا یې راته وویل: روژې ونیسه.

د روژه نیونکو قسمونه:

ځینې روژه نیونکې یواځې د صحت لپاره روژه نیسي، هغوی د عبادت او فریضې پرځای کولو نیت او اراده نلري، یواځې هماغه ډاکټر نه یې چې څه اورېدلي وي، هماغه لارښوونې پرځای کوي، او مقصود یې روغتیا وي.
ځینې روژه نیونکې یواځې د خوراک او څښاک نکولو ته روژه وایي، هسې خپل جسم ته تعذیب ورکوي ترڅو خپل ګمان سره اللّه تعالی ته خپله غاړه د دې فرضیې په اداء کولو خلاصه کړي.

دا داوړه ډلې د روژې د مقصد او حکمت کوم لپاره چې اللّه تعالی فرض کړې ډېر لېرې دي.
یو هغه روژه نیونکی دی کوم چې روژه د اللّه تعالی لخوا یوه فریضه ګڼي، او د پوره ادابو سره یې پرځای کوي، دا هغه دی کوم چې د روژې له اصلي مقصده خبر دی.

د روژې روغتیایي ګټې:

اللّه تعالی پخپل کتاب کې فرمایي:
وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ.
یقینا روژه د خیرونو نه ډک عبادت دی. روژه سره د دې چې لوی عباد ت دی، اللّه تعالی ته ډېر خوښ او د انسان معنوي روزنه کوي.
د انسان بدن هم ښه روزي له ډېرو ناروغتیا ګانو څخه یې ژغوري، راځئ وګورو چې ډاکټران د روژې په اړه څه وایي، او کومې ګټې ترې پورته کوي.
د انسان بدن روژې ته ډېره اړتیا لري، روژه د انسان د هاضمې جهاز منظموي، او معده یې فعاله ساتي، حجرات یې ژوندي ځوان ساتي.
ډاکټران وایي: انسان باید روژه ونیسي ترڅو یې جسم کې زاړه حجرات لمنځه لاړ شي، او اضافي موادو وتلو ته لار برابره شي، حجرات خپلې بیولوژیکي دندې په سم ډول ترسره کړي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی: صوموا تصحوا.
روژه ونیسئ، روغتیا به ومومی.

نن طب دا په تجربو ثابتوي چې روژه د روغتیا ساتلو او راکرځولو کې مهم او اساسي رول لوبوي.

ډاکټران وايي: د ځینو خلکو هغه خبرې سمې ندي کوم چې وايې: روژه انسان کمزوری کوي، که چېرته روژه په معقوله طریقه لکه څنګه چې اسلام (رسول الله ـــ صلی الله علیه وسلم ـــ نیولې) وه، ونیول شي ـــ لکه: یوې میاشتې پورې په مسلسل ډول د یوې ورځې په انداز د جماع، خوارک او څښاک پرېښودل ـــ نو د انسان روغتیايي حالت کې به له مخکیني حالته ډېر مثبت بدلونونه راولي، دغه ډول روژې نیول ډاکټران له ډېرو پرلپسې ازموینو وروسته دې پایلې ته رسولي چې د شکر، وزن کمول، د بندونو درد، د زړ بوډا توب مخنیوی، جلدي ناروغی، او هاضمي جهاز منظم او پیاوړی ساتلو لپاره یو بنسټیز او اغېزناک علاج دی.

د روژې آداب:
ځینې اداب واجب دي، او ځینې مستحب.
ځینې هغه آداب چې واجب دي:
د فرض لمونځونو پرځای کول، او پوره پاملرنه پرې ساتل، د ټولو ارکانو او شروطو سره یې په جماعت اداء کول. او ټول حرام کارونه که قولي وي یا فعلي پرېښودل، لکه: ښکنځل، غیبت، چغلي، سپکې خبرې کول، او خپلې سترګې له پردیو ښځو ساتل، او غوږونه له حرامو اورېدلو ساتل او دغه راز خېټه له حرامو خوړو ساتل، ځکه روژه خو دېته نه وايي: چې ته خپل رب لپاره مباح او حلال شیان پرېږده او حرام کارونه کوه.
او نه روژه یواځې په خوراک او څښاک پورې محدوده ده، ځینې عالمان وايي: روژه کې تر ټولو اسانه کار د خوراک او څښاک پرېښودل دي.

جابر رضی الله عنه به د روژې په اړه ویل: کله دې روژه نیوله نو په غوږ، سترګه او ژبه دې هم له درواغو، ګناهونو او ګاونډیانو ته له ضرر رسولو روژه کوه، د روژې ورځ دې باید له نورو ورځو ډېر توپیر ولري.

امام اوزعي رحمه الله تعالی ویلي: روژه په غیبت، چغلي او درواغو ویلو ماتېږي، او هر چا چې روژه کې درواغ وویل او یا یې چغلي او غیبت وکړ نو روژه د دې روژې قضایي دې راوګرځوي.

او بن حزم رحمه الله تعالی ویلي: هر چا که روژه کې ګناه پداسې حال کې وکړه چې ده ته یاد ؤ چې زه روژه یم د ده روژه ماتېږي.

او دغه راز یو بل عالم وايي: هغه څوک چې روژه کې ګناه کوي داسې دی لکه ښار چې

ورانوي او کور جوړي.

او د دوی دا خبرې د رسول الله صلی علیه وسلم له دې قول څخه اخیستل شوي چې فرمايي: هغه څوک چې بې ځایه خبرې او کارونه پرې نږدي، الله تعالی د هغې خوراک او څښاک پریښودلو ته هیڅ اړتیا نلري.

او دغه راز فرمایلي یې دي: ځینې روژه نیکوي ته د لوږې تیرولو نه غیر نور هیڅ نه په برخه کیږي.

او له مستحبو ادابو څخه یې:

پیشنمي کې تاخیر او روژه ماتي کې عجله کول، د قرآنکریم تلاوت ډېرول، صدقات ورکول، هر ډول نیک کار ته بدې وهل.

د روژه ماتي وخت کې دعاء: ذهب الظمأ وابتلت العروق، وثبت الأجر إن شاء الله.

او نورې دعاګانې هم شته دي، دا وخت د دعاګانو د قبلېدلو دی، هرډول دعاګانې دي پکې وکړای شي.

د روژې احکام:

روژه د رمضان میاشتې لیدلو سره فرضیږي، او رمضان میاشتې لیدلو لپاره د یوې ډلې، دوو او یا یو عادل شاهدي ـ هر یو شاهد ځانګړې حالت لري ــــ د اختر میاشتې لیدلو لپاره د دوو کسانو شاهدي منل کیږي.

او که ونه لیدل شي نو د شعبان د میاشتې دېرش ورځې به پوره کوي.

روژه په هر مسلمان، بالغ، عاقل، مقیم او قادر باندې فرض ده.

د روژې ارکان:

- نیت
- د روژه ماتونکو شیانو څخه ځان ساتل
- وخت ـ د صبح صادق راښتلو نه تر لمر لوېدلو پورې ـ
- روژه نیونکی ـــ هغه مسلمان، بالغ، عاقل او په روژه باندې قادر وي پرته له موانعو ـــ.

د روژې خوړل یواځې څو محدودو کسانو ته روا دي:

- هغه ناروغ چې روژه نیول ورته زیان رسوي.
- هغه ضعیف چې د روژې نیولو توان نلري.
- مسافر.
- هغه ښځه چې ماشوم ته شیدې ورکوي.
- هغه ښځه چې ګېډه کې یې بچی وي
- پوهیږي چې روژه نیول یې ماشوم ته ضرر رسوي.

او په د حیض او نفاس حالت کې هم ښځه باندې روژه نیول نشته خو قضاء به یې راوړي.

د روژې کفاره:

هغه کمزوری انسان کوم چې ځان کې د قضاء توان نهویني، نو کفاره به ورکوي.

د یوې روژې کفاره یو مسکین ته د یو وخت ډوډې ورکول دي.

د روژې ماتونکي شیان:

- د روژې د ماتولو نیت؛ هغه نیت چې تطبیق شي.
- قصدا خوراک او څښاک، یا هغه څه چې د خوراک او څښاک ځای نیسي لکه: هغه پېچکاري کومه چې غذايي مواد لري.

څګرټ او ورته شیان هم روژه ماتوي. ځکه؛ څګرټ عضوي ماده ـ نیوکوتین ـ لري، دا په فلتر کې ښه ځرګندیږي، او دغه راز داکتران وايي: چې دود یې د سږو او هوايي کڅوړو برسیره معدې ته هم رسیږي.

فقهاء وايي:د دود او هغو عطرو ـــ بخور ـــ کوم چې د انسان مرۍ ته رسیږي روژه ماتوي، نو باید ځان ترې وساتل شي خو که دود په غیرې قصدي ډول تېر شي بیا خیر دی، او عام عطر بیا روژه نه ماتوي.

- قصدا جماع.
- قصدا قي کول.
- حجامت کول.
- استمناء.
- حیض او نفاس.
- مرتد کیدل.

مباح کارونه:

- د بدن یخوالي لپاره غسل کول.
- جنابت، کله چې له خوبه پاڅي باید ژر غسل وکړي، دې جنابت سره یې روژه نه ماتیږي.

مسواک استعمالول.

مسواک وهل سنت دي، ځینې یې نه استعمالول پدې دلیل غوره ګڼي چې اللّٰه تعالی ته د روژه نیونکي د خولې بوي خوښ دی، او دا د شهید د وینو سره قیاسوي، ځکه رسول اللّٰه ـــ صلی اللّٰه علیه وسلم ـــ شهید خپلو وینو سره ښخ کړی؛ وېلي یې دي چې اللّٰه تعالی ته دا وینه د مسکو نه غوره ده. خو دا قیاس له هغې ـ د روژه نیونکي د خولې بویې او د شهید وینې ـــ سره ځکه سم ندی چې د مسواک استعمال سنت دی، او دا حدیث یې پر استعمال ښه دلیل دی: (مسواک د خولې پاکونکی او رب راضي کونکی دی)

- خوله او پزه بې له مبالغې پرېمینځل

ليكوال:
نور الهدى خليل

عبد اللّٰه شامل ابو ادريس بسايف

رحمه اللّٰه

د اسلام تاريخ مطالعه کړئ، ځکه اسلامي تاريخ په خپله غېږه کې ډېر څه لري، د اسلامي تاريخ لوستونکي په دې پوهېږي چې مسلمانان يا اسلام په خپل څوارلس سوه کلن دور کې داسې څه لري، چې په لوستلو او حاصلولو کې به يې زيات وخت ته اړتيا وي، زموږ د اوسنۍ زمانې مسلمانان وروڼه بالخصوص ځوانان له ځينو نومونو او ځايونو سره بيخي نااشنا دي، کله چې له ځوانانو څخه د قفقاز، ترکستان او چيچنيا د سيمو د نوم پوښتنه وکړې، نو هکپک او حيران شي، راځئ چې قفقاز وپېژنو؛ قفقاز د آسيا او اروپا ترمنځ د تور سمندرګي او سپين سمندرګي ترمنځ پرته سيمه ده، قفقاز د (۵۲۰۰۰۰) کيلومتر مربع مساحت درلودنکی دی، قفقاز د جغرافيايي جوړښت له نظره په دوه برخو وېشل شوی دی، جنوبي قفقاز او شمالي قفقاز، په جنوبي قفقاز کې دغه سيمې لکه (آذربايجان، آرمنستان، ګرجستان، د ايران شمالي برخې او د ترکيې شمالي برخې) شاملې دي، شمالي قفقاز بيا زياتې برخې اوس د روسيې شمالي برخې دي، لکه داغستان، چيچنيا، اينګوشيتيا او نور) شامل دي، نسبت د نړۍ نورو برخو ته قفقاز ډېر ښکلي وطنونه لري، د قفقاز پر ځمکه اسلام په اووم قرن کې خپور شو، چې له هغه وروسته بيا اسلام تقريباً د قفقاز ټولو برخو ته ورسېد.

د اسلام څوارلس سوه کلن تاريخ هر دور شاهدي ورکوي، چې په هر زمان کې د رسول اللّٰه (صلى اللّٰه عليه وسلم) له امته داسې خلګ را پېدا شوي، چې د اللّٰه جل جلاله له دين څخه يې په خپل سر او مال دفاع کړې، په دې لار کې يې هر څه قرباني کړي او د اسلام په خپرلو کې په پراخ زړه، پوره اخلاص او بشپړې ايماني جذبې سره جهاد او قتال کړی، چې ذروة سنام الاسلام بلل کېږي.

قفقاز هم د اسلامي نړۍ د اتلانو يوه زېږوونکې برخه ده، د اسلامي نړۍ په دغه برخه کې تاريخ جوړونکي اسلامي شخصيتونه زېږېدلي دي، د قفقاز په کنګل کنګل غرونو کې امام نجم الدين خپل ژوند د دين په دعوت کې تېر کړ، امام منصور او حمزه بيک په همدې سيمه کې د اسلام بېرغ هسک وساته، او امام شامل د ژوند ډېره برخه د روسانو په ضد په سنګر او جهاد کې تېره کړه.

د شلمې ميلادي پېړۍ په نيمايي کې د قفقاز مسلمان د روسي امپراطور جوزف ستالن له خوا ډول ډول وکړول شول، خو د همدې پېړۍ په پای کې د يادې سيمې مسلمانانو يو ځل بيا د جهاد او خپلواکۍ بېرغ پورته کړ، د جهاد دا عظيمه او نه پرې کېدونکې سلسله ورو ورو پسې اوږدېده، هماغه و چې د بيا لپاره د

سپيڅلي مبارزې سنګر ګرم شو.
دغه مهال يو ځل بيا قفقاز يو ځل بيا اسلامي نړۍ ته اتلان ورکړل، چې له دې جملې يو هم شهيد عبد اللّه شامل ابو ادريس بسايف دی.
امير عبداللّه شامل ابو ادريس بسايف په (۱۹۵۶م) کال کې د چيچنيا د (دشنې) په کلي کې زيږيدلی، په خپله سيمه کې يې زده کړې ترلاسه کړې او له له دې کبله چې د هغه د ځواني په لومړيو شپو او ورځو کې چيچنيا د شوروي اتحاد برخه وه، شهيد شامل بسايف هم په شوروي پوځ کې دنده ترسره کړې.
نومورې په يوې اسلامي کورنۍ کې دنيا ته سترګې غړولې دي، نيکه يې په ۱۹۷۷م کال کې په شمالي قفقاز کې د انقلابي پاڅون د مشرانو او امام شامل له نږدې ملګرو څخه و، چې په همدې لار کې د روسانو له خوا بيا په شهادت هم ورسيږد.
دغه د آرام او غلي طبيعت څښتن په ځواني کې يوه ناپيژندل شوې څيره وه، خو کله چې په ۱۹۹۱م کال کې شهيد جنرال جوهر دودايیف د چيچنيا د آزادۍ غږ پورته کړ، نو شامل هم د خپلواکۍ د لښکر د لومړي صف سرې شو او خپل نوم يې د تاريخ په پاڼو کې په زرينو تورو نقش کړ.
شهيد شامل په چيچنيا کې د خپلواکۍ د اسلامي خوځښت او د يو اسلامي دولت د قيام د هلو ځلو له پيله وروسته داسې کارنامې ترسره کړې، چې د تاريخ حافظه کې د رڼو ستورو حيثيت لري، نومورې د چيچنيا

لپاره اتل او د روسانو لپاره يو نه وېرېدونکی مسلمان قومندان دی، هغه څوک دی چې روسانو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې او د خپل سر په بدل يې له خپل دين او هېواد څخه دفاع وکړه، شامل بسايف يو داسې نوم دی چې اسلامي نړۍ پرې وياړي او کړنې يې د مسلمانانو لپاره د لارې د مشال حيثيت لري.
نومورۍ د قربانيو او سرښندنو يوه بېلګه وه، د ټولي لپاره قومندان، د جګړې په ډګر کې سرتېری، يو ښه مبارز، غوره روزونکی بلکې په هر ډګر کې د سر سړی و، په ۲۰۰۰م کال کې د چيچنيا د پلازمينې ګروزني (جوهر) د محاصرې د ماتولو په مهال د روسي ځواکونو له خوا د مجاهدينو د مخنيوي لپاره په خښو کړای شويو ماينونو پلی ور روان و، چې همدا مهال پرې يو ماين وچاودېد او نومورۍ يې له يوې پښې محروم کړ.
په چيچنيا کې د اسلامي حکومت له ختمولو وروسته هم د ګوډ شامل جهادي هيلې مړاوې نه شوې، بلکې د هغه مبارز طبيعت نور هم تاند او ځپاند شو او د شهادت تر وخته يې په وروستۍ شپږ کلنه مبارزه کې د روسي ښکېلاک پر ضد داسې عسکري عمليات ترسره کړل، چې ستر ستر پوځي جنرالان يې ګوته په غاښ کړل، د ټولې نړۍ مخ ور واوښت، بالاخره نړيوالو کفري ځواکونو د اسلام او مسلمانانو پر ضد د يوويشتمې پېړۍ له تر ټولو ناوړه حربې کار واخيست او نړيوال

استبداد هغه د یو تروریست په توګه اعلان کړ.
دې هر څه د شهید جنرال عبدالله شامل ابو ادریس
بسایف د جهادي یون مخه ډب نه کړه، پر مخ روان و، د
نړۍ مسلمانانو ته یې د جهاد د بریا پیغامونه لیږل او
په هره مرکه کې یې اسلامي امت د یووالي په لور رابلله.
شامل د یو پرتمین او سر لوړي جهادي ژوند له تېرولو
وروسته د ۲۰۰۶م کال د جولایي د میاشتې په لسمه نېټه
د شهادت لوړ معراج ته ورسېد او تل پاتې ژوندی شو.
هغه په دې لار کې یوازې خپل ځان او مال قرباني نه
کړ، بلکې د کورنۍ ډېر غړي یې هم په همدې لاره کې له
لاسه ورکړي دي، لکه چې د نوموړي پلار په ۲۰۰۲م کال کې
له روسي پوځ سره د جګړې په مهال په شهادت رسېدلی،
یو ورور یې د زهرو په واسطه په شهادت رسېدلی او بل
ورور یې له روسانو سره په ۲۰۰۰م کال کې سخت ټپي شو.
د شهید بسایف یوه مېرمن، یو زوی، خور او اووه
اولادونه په ۱۹۹۵م کال کې هغه مهال په شهادت
ورسېدل چې روسي هوايي ځواک د هغه کور بمبار کړ.
نحسبهم کذالک والله حسیبهم
روح دې یې ښاد او یاد یې ترتله ژوندی وي.

(پنځمه برخه)

ليکوال:
الشيخ انور العلوقي رحمه اللّه
ژباړه: ابو قتاده



په جهاد کې د کډون او شریکیدو طریقې او شرعي حل لاره

۱۳_ د رسنیو درواغ افشا کول:

زموږ ډېر سلمانان هغه څه تحليلوي چې غرب او غربي رسنۍ یې وړاندې کوي.

حالانکه اللّه سبحانه وتعالی فرمايي: يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَدِمِينَ.

[سُورَةُ الحُجرَات: ٦]

ژباړه: اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسې ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسې (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو کړنو پښېمانه شئ.

دا حکم خو د فاسق په اړه دی، نو د فاسق پر ځای به د کافرانو او مرتدینو څه حکم وي

چې تر مونږه خبرونه رارسوي، دا رسنۍ نه دي، په حقیقت کې دا د درواغو بنډلې دي، د مجاهدینو په اړه که کوم خبر یا تحلیل وي نو د واقعیت په پټولو سره یې خپروي، آیا موږ نه وینو چې کافران کله د مسلمانانو بې رحمه قتل عام کوي او د خپلو جوړ کړیو جنګي قوانینو احترام هم نکوي، د ملکي وګړو په وژنو پرده اچوي او جواز ورته جوړوي، خو د جګړې پر مهال که کوم ملکي وګړی د مجاهدینو په مرمیو ولګېږي، نو مجاهدینو ته فسادیان، شرپسند او ترهګر وايي او دنیا ته دوکه ورکوي.

د رسنیو رول په دې برخه کې دومره اغېزمن دی، چې په ټوله نړۍ کې درواغ خپرېږي او حقایقو ته د ځان د پاکولو

چانس نه ورکول کېږي او د اسلامي امت اکثریت یې په فریب ګېر شي.
دا یو حقیقت دی چې رسنۍ د مجاهدینو د بدنامولو لپاره په مختلفو طریقو سره چلونه کوي، د هغوی په اړه ناسم او بې اساسه خبرونه خپروي، د هغوی په تېروتنو کې مبالغه کوي، تل د شمېرو په اړه له دروغو څخه کار اخلي، اکثره وخت په دوی کې د اختلاف د رامنځته کولو په موخه دوی ته درواغجنې خبرې منسوبوي. د دوی په منځ کې د مجاهدینو د مشرانو په کرادر خاورې اچوي. هم دغه رسنۍ دي چې عوامو ته د علماء حق د بیانونو د رسولو اجازه نه ورکوي، بلخوا د جهاد مخالف د علماء سو بیانونو ته هوا ورکوي.

نو اې زما زړه ته راتېره وروره! پر تا لازم دي چې د مسلمانانو ترمنځ په دغه اړه پوهاوی پېدا کړې. او مسلمانان پوهه کړې چې د رسنیو دغه کردار تل په خپل ذهن کې وساتي، او د مجاهدینو په اړه سم نشریات وکړي، مونږ باید د رسنیو په هیڅ خبر اعتماد ونکړو ترڅو چې د مجاهدینو بااعتماده رسنیو لخوا یې تصدیق نه وي شوی، ځکه د فاسق په خبر د یقین نه کولو امر اللّٰه تعالی په قرآن کې کړی دی.
زه دا نه وایم چې د رسنیو په موسمي وړاندوینو هم باور مکوئ ځکه چې دوی فاسقان دي، نه، بلکې زما مطلب دا دی چې تاسو د دوی په هغه خبر باور مکوئ چې د هغې خبر تعلق د اسلام او مجاهدینو سره وي، ځکه دوی په داسې خبرونو کې د مکر او فریب څخه ډک او خاص رول لوبوي.
نور بیا

د اعتکاف فضائل او مسائل

لیکوال : مولوي نجم الرحمن (فضلي)

د اعتکاف لغوي او اصطلاحي معنی:

پوښتنه : د اعتکاف لغوي او اصطلاحي معناوې څه دي؟.

ځواب : د اعتکاف لغوي معنی په کوم ځای کې د کیناستلو ده، د قرآن او سنت په اصطلاح کې له یو شمیر ځانګړیو شرایطو سره په جومات کې د کیناستو او هلته د قیام کولو نام اعتکاف دی، د لفظ)فِی الْمَسَاجِدِ(له عموم څخه ثابته شوې چې اعتکاف په هر جومات کې کیدلای شي، کومو فقهاؤ چې دا شرط بیان کړی چې اعتکاف په هغو جوماتونو کې کیدلای شي چیرته چې په جماعت سره لمونځ کیږي، په غیر آباد جوماتونو کې په کومو کې چې په جماعت سره لمونځ نه کیږي په هغو کې اعتکاف صحي نه ده، دا شرط په حقیقت کې د جومات له مفهوم څخه مستفاد دی، ځکه چې د جومات جوړولو اصلي مقصد د جماعت لمونځ دی، که نه نو تنها لمونځ خو په هر ځای دکان، کور وغیره کې هم کیدلای شي.

مسئله : د روژې په شپه کې خوراک کول، څښاک کول،له کوروداني سره مباشرت کول ټول بیان کړی شول، په اعتکاف کې د خوراک څښاک هغه حکم دی کوم چې د ټولو لپاره دی، خو له ښځو سره د مباشرت په معامله کې جلا دی، هغه دا چې اعتکاف کوونکي ته په شپه کې هم مباشرت ندی رواء.

مسئله : د اعتکاف دویمه مسئله دا ده چې له هغه سره روژه شرط ده، او دا چې په اعتکاف کې له جومات څخه وتل پرته له طبعي یا شرعي حاجت څخه روا نه دي، یو شمیر داسې مسایل د اعتکاف له لفظ څخه مستفاد دي او یو شمیر نور د رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم له قول او فعل څخه ثابت دي ([١]).

اعتکاف پیژندنه:

پوښتنه : اعتکاف څه ته وایي؟

ځواب : اعتکاف دیته ویل کیږي چې یو سړی د خدای تعالی په کور یعني په جومات کې

مسئله : د روژې په شپه کې خوراک کول، څښاک کول،له کوروداني سره مباشرت کول ټول بيان کړی شول، په اعتکاف کې د خوراک څښاک هغه حکم دی کوم چې د ټولو لپاره دی، خو له ښځو سره د مباشرت په معامله کې جلا دی، هغه دا چې اعتکاف کوونکي ته په شپه کې هم مباشرت ندی روا.

